# شریعت

ورځپانه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۲۵۱ ګڼه / دوشنبه ۱۲ صفرالمظفر ۱٤٤٥ هـ.ق / ۰٦ سنبله ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲۸ آګست ۲۰۲۳ میلادي


## د ملګرو ملتونو د وروستي راپور په اړه د حکومت غبرګون

د ملګروملتونو په امنیت شورا کې سفیرانو ته په اصطلاح د تروریزم پر وړاندې د مبارزې دوو جګپوړو چارواکو د داعش له لوري له نړۍ او افغانستان څخه ګواښونو په اړه مالومات ورکړل شول، چې پکې زموږ په هېواد کې د شلو ډلو شتون، د وسلو د پراختیا او د داعش د عملیاتي ورتیاوو د زیاتوالي ادعاوې بیا تکرار شوې.د افغانستان اسلامي امارت یو ځل بیا دغه بې بنسټه تورونه ردوي او په داسې حال کې، چې په دې ډول مسایلو کې د شفافي ښکیلتیا غوښتنه کوي، څرګندوي، چې په تېرو دوو کلونو کې افغان امنیتي ځواکونو د ناقانونه وسلو او داعش پر ضد سلګونه مستقل عملیات تر سره کړي، چې په پایله کې یې هم وسلې او مهمات نیول شوي او هم د داعش عملیاتي وړتیاوې له منځه وړل شوې دي.هر هغه څوک چې دا ډول بې بنسټه ادعاوې کوي یا خو یې معلومات کم دي او یا هم په دې ډول پروپاګند سره ځپل شوي داعش ته مورال ورکوي او په سیمه کې بې ثباتي ته لمن وهي.دا چې په تېر یوه کال کې په افغانستان کې د داعش فعالیتونه صفر ته نږدې شوي...۷مخ

### مولوی امیر خان متقی:

## افغانستان بازار خوبی برای صنایع ایران است



مولوی امیر خان متقی، سرپرست وزارت امور خارجه امارت اسلامی' افغانستان را بازار خوب برای صنایع ایران خواند.دفتر مطبوعاتی این وزارت، در خبرنامه‌یی نوشته است: متقی، در دیدار با هیئت هفت نفره مجلس نمایندگان جمهوری اسلامی ایران به رهبری جواد کریمی قدوسی، گفت: افغانستان بازار خوبی برای اقلام صنعتی ایران است و بنابراین لازم است که در بخش تجارت و ترانزیت میان افغانستان و ایران تسهیلات بیشتر فراهم و از این فرصت به گونه ی کامل استفاده شود.طبق خبرنامه؛ او بیان داشت که امارت اسلامی افغانستان با حاکمیت دوباره در کشور علاوه بر تأمین امنیت سرتاسری و محو داعش در این کشور که به منفعت کشورهای منطقه و جهان نیز است؛ میزان کشت خشخاش را به صفر رسانیده و تداوی هزاران معتاد را که تعداد شان تا ۴ میلیون فرد می‌رسد آغاز کرده است.اعضای مجلس نماینده‌گان ایران، گفتند: هردو طرف باید در موارد چون جلوگیری از قاچاق، مدیریت مشکلات سرحدی و جلوگیری از رفت و آمد افراد غیر مجاز به طور مشترک کار کنند و راه حل آن را پیدا کنند.آنان افزودند که ایران آماده است تجارب خویش را در موارد مختلف با امارات اسلامی افغانستان شریک کند.

### ملاخیرالله خیرخواه:

## حفاظت آثار تاریخی مسؤولیت همه‌ما میباشد

ملا خیرالله خیرخواه، سرپرست وزارت اطلاعات و فرهنگ دیروز با مسوولان شرکت ام سی سی شرکت قراردادی استخراج معدن مس عینک لوگر دیدارکرد.
به گزارش آژانس باختر: در این دیدار، مسوولان شرکت متذکره گفتند: تلاش داریم تا کارپروژه مس عینک را طورتطبیق کنیم که به آثار فرهنگی آسیبی نرسد و از وزارت اطلاعات و فرهنگ دراین زمینه خواهان همکاری شدند.
مسئولان شرکت یاد شده با ابراز خرسندی تاکید کردند که با حاکمیت امارت اسلامی برای شرکت‌های داخلی و خارجی زمینه کار و سرمایه گذاری در افغانستان فراهم شده است.
همچنان سرپرست وزارت اطلاعات وفرهنگ درتطبیق کارپروژه مس عینک از همکاری این وزارت اطمینان داده گفت: آثار تاریخی مربوط به یک کشور نیست ، بل حفاظت آن مسوولیت همه می باشد.

## معین وزارت زراعت خواهان تسریع روند کار کانال قوش تیپه شد



معین وزارت زراعت آبیاری و مالداری در نشست کمیته بررسی کار' کانال قوش تیپه خواستار تسریع کار این پروژه بزرگ ملی شد.
دفتر مطبوعاتی وزارت زراعت آبیاری و مالداری دیروز... ص۷

## د تکواندو مډال راوړونکي ورزشکاران وستایل شول



ارګ؛ د ریاست الوزرا د دفتر رییس ډاکټر ملا عبدالواسع د تکواندو فدراسیونو مډال راوړونکي ورزشکاران وستایل، د ریاست الوزرا د دفتر رییس ډاکټر ملا عبدالواسع د تکواندو فدراسیون هغه شپږ تنه ورزشکاران، چې د جنوبي کوریا له سیالیو څخه یې ۱۴ بېلابېل مډالونه راوړي وو، د یوې لیدنې په ترڅ کې تقدیر کړل.په دې لیدنه کې د المپیک ملي کمېټې او سپورټ عمومي ریاست رییس مولوي احمد الله وثیق، د بدني روزنې او سپورټ عمومي ریاست فني او مسلکي مرستیال حافظ احمد جان ځدراڼ، د المپیک ملي کمېټې اجرائیه رییس داد محمد پاینده اختري، د تکواندو فدارسیون رییس ډاکټر... ۷مخ

### محمدخالد حنفي:

## په افغانستان کې د اسلامي احکامو د پلي کولو هڅې دوام لري




د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت سرپرست شیخ الحدیث محمد خالد حنفي بامیان ولایت ته د خپل سفر پرمهال د یوې غونډې په ترڅ کې د دغه ولایت له چارواکو، دیني عالمانو او مخورو سره وکتل.په دې غونډه کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت سرپرست شیخ الحدیث محمد خالد حنفي وویل: په ټوله نړۍ کې هېڅ داسې هېواد نشته چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت ولري، خو الحمد لله له فتحې وروسته د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت... ۷مخ

## ننګرهار کې ۲۳ پروژې بشپړې شوې

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت په ننګرهار ولایت کې د ۲۳ بېلابېلو پروژو د پشړېدو او کټې اخیستنې ته د سپارل کېدو خبر ورکړی دی.
یاد وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د ننګرهار ولایت د روداتو ولسوالی په ۱۲شوراګانو کې د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست تر چتر او خارنې لاندې، د (یو ان اوو پي اس) اداري په مالي مرسته او د



ډاکار مؤسسې په تخنیکي همکارۍ د ۲۱ میلیونه افغانیو په لګښت د ۲۳ بېلابېلو پروژو چارې بشپړې او کټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د خبرپاڼې د مالوماتو له مخې؛ په یادو پروژو کې د ۱۰۶ کیلو متره کانال پاکول، د ۱۳ کیلومتره سړک، ۵۷ پلچکونو، ۲ سربندونو، ۱۲۰ متره کانالونو او د یو کیلو مترو په اوږدوالي د استنادي دیوالونو جوړول شامل دي.
سرچینې زیاته کړې، چې د یادو پروژو په بشپړېدو سره د سیمو د اوسېدونکو نسبي ستونزې هوارې شوې دي.

## له ترهګرۍ سره مبارزه او که د داعش په ګټه کمپاین؟

۲ مخ

## نګاهی به ارزش اقتصادی و اجتماعی پروژه کابل جدید

صفحه ۳

## ښاغلي حکمتیار صاحب ته د وروري مشوره!

۳ مخ

## د نړۍ ۱۹۲ هېوادونو ته د پُوست او پارسل خدمتونه ترسره کېږي




د اسلامي امارت په هلوځلو سره افغان پُوست هېوادوالو ته د ښو خدمتونو په وړاندې کولو سره یو ځل بیا خپل پخوانی شهرت ترلاسه کړ او فعالیتونه یې له پخوا غښتلي او پراخ شوي، دغه اداره د نړۍ ۱۹۲ هېوادونو ته د پُوست او پارسل خدمات ترسره کوي، د هېواد په د ننه کې هم خلکو ته د پاسپورټونو وېش او کوم اسناد، چې د بهرنیو چارو وزارت تائیدۍ ته اړتیا ولري له دې لارې لېږدول کېږي او له مهر او تائید وروسته بېرته مراجعه کوونکي ته ورکول کېږي.د سیم کارتونو د وېش چارې د همدغې اداري له خوا وېشل کېږي.زموږ خبریال د افغان پُوست د سوداګرۍ د پراختیا له رئیس... ۴مخ

سرمقاله

## زیاتره بهرني ګواښونه له کورنیو ستونزو پیدا کېږي!

په عمومي ډول د ټولنې او ملتونو له تاریخي پېښو او تکراري تجربو دا ثابته شوې،چې په کور د ننه د وګړو ښه انتظام، پیوستون او د بېلابېلو قومونو او طبقاتو وحدت او همغږي په اغېزمنه توګه له بهره د راپېښېدونکو خطراتو په مخنیوي کې مهم رول لرلی شي،هماغسې لکه د یو کور پاخه دېوالونه چې د لړ نم او کمو اوبو په تماس نه شي زیانمن کېدلی او واړه سېلابونه یې نه ورانوي،خو پر خلاف یې بیا خام ختین دېوالونه د ډېرو کمو اوبو له جریانه هم نړېدلي او ټول کور ترې زیانمن کېدای شي، مطلب دا چې که د یوې ټولنې او ملت مشري، واکمني او قیادت د داسې هوښیارو، ځیرکو او با تدبیره اشخاصو په لاس کې وي چې خپل ولس په خورا ښه ډول تنظیمولی، پاللی، د سمون او پرمختګ په لور روانولی او داخلي چاودونه یې سره نښلولی شي،نو ښکاره خبره ده چې بهرني دښمنان نه شي کولی په اسانۍ سره د هغوی تر منځ مداخله وکړي، بدګومانۍ او بې باورۍ منځ ته راوړي، اجیران او لاس پوڅي په کې وروزي او د خپلو شیطاني مو خو لپاره یې استخدام کړي،خو بل لور ته بیا هر هغه ملت چې خپلو حاکمانو کې عدالت، شفافیت او خدمت نه ویني، ټول امتیازات یې یوازې خپل ځان پورې تړلي او ملت یې د غلطو او نا معقولو پالیسیو له امله تر پوزې راغلی وي، طبیعي ده چې د دښمن په معمولي اشاره به هم را پاڅېږي او په وطن کې به پراخ... ۷مخ

## کندوز کې لسګونو اړمنو کورنیو ته سرې خونې جوړې شوې



د کندوز د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست مسوولین وایي، چې د ملګرو ملتونو د خوړ او کرنې اداري په مالي مرسته د دغه ولایت په آقتاش او ګل تپې ولسوالیو کې ۴۵ اړمنو کورنیو ته سرې خونې جوړې شوې. د یاد ولایت د کرنې، ۷مخ

## د هلمند ترافیکو مدیریت څه باندې ۸ میلیونه عواید راټول کړي

د هلمند امنیه قوماندانی د ترافیکو مدیریت لخوا د زمري میاشتې په اوږدو کې د پلیټونو او جوازسیرونو د ورکړې څخه اته میلیونه ۱۳۳ زره او ۹۷۸ افغانۍ عواید راټول کړي.د هلمند امنیه قوماندانی د ترافیکو مدیر ملا احمد اخوند زاده ویلي؛ د تېرې میاشتې په جریان کې د ۳۵۰ جلده پلیټونو او جوازسیرونو څخه یاد عواید په لاس ورغلي، چې د اسلامي امارت خزانې ته سپارل شوي دي.نوموړي زیاته کړې؛ تر دا مهاله په هلمند کې د ترافیکو مدیریت له لوري موټرونو د ثبت په پروسه کې شاوخوا ۳۸ زره او ۵۰۰ موټرونه... ۷مخ

# له ترهګرۍ سره مبارزه او که د داعش په ګټه کمپاین؟

**جهادوال**

د ملګرو ملتونو سازمان له ترهګرۍ سره د مبارزې څانګې د عمومي منشي مرستیال د روان کال د اګیست په ۲۶ مه د دغه سازمان امنیت شورا ته په خپل رپوټ کې په افغانستان کې داعش ډلې د ورتیاوو او بریدونو زیاتوالی خبر ورکړ.

دغه غونډه چې له ترهګرۍ څخه نړیوال امنیت ته د متوجه ګواښونو په اړه رابلل شوې وه، له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې د ملګرو متلونو د عمومي منشي مرستیال ویلادیمیر وورونکوف د داعش ډلې ګواښونو په اړه خپل اوولسم رپوټ د غونډې برخه‌والو ته وړاندې کړ او په دې برخه کې یې پر څو اړخیزو اقداماتو باندې د اړتیا په ټینګار سره د دغه ګواښ مخنیوي لپاره د غړیو هېوادونو هڅې ارینې وبللې.

دغه رپوټ د شته واقعیتونه له انعکاس او د اثباتیه دلایلو له وړاندې کولو پرته د افغانستان وضعیت پېچلی ښودلی او وېره یې څرګنده کړې، چې ښایي هغه وسلې او پوځي تجهیزات چې د ترهګرو ډلو لاس ته لوېدلي، په واقعي ګواښ بدل شي.

رپوټ په یو شمېر افریقایي هېوادونو لکه مالي، بورکینا فاسو، نایجر، سوډان، کانګو او مصر او همدارنګه سوریې، یمن، موزمبیک، عراق او ځینې نور هېوادونو کې هم د داعش ډلې فعالیتونو ته اشاره کړې ده.

که څه هم د دغه رپوټ له خپرېدو سره سم اسلامي امارت د یوې اعلامیې په خپرولو سره دغه ډول تورونه بې بنسټه او هغه یې د داعش لوی ښودلو لپاره یو ډول کمپاین وباله، خو دا چې د ملګرو ملتونو سازمان په څېر یو نړیوال بنسټ چې د جوړېدو اصلي هدف یې هم د بین‌المللي سولې او امنیت ټینګښت دی، ولې پر دغسې غیرواقعي او یوارخیز دریځ‌نیولو سره خپل موقف ته په نړیواله کچه زیان رسوي؟

څرنګه چې وروستیو پېښو وښوده، په نړۍ کې د سړې جګړې له پایته رسېدو او د امریکا په مشرۍ د نړۍ یو قطبي کېدو سره، امریکا د نړۍ پر مادي او معنوي ګټو باندې د ولکې لپاره بېلابېلې توطیې په لاره اچولې او د ملګرو ملتونو سازمان په څېر بنسټونو څخه په نړیوال سیاست کې د ځان په ګټه د وسیلې په توګه استفاده کوي، چې ښې بېلګې یې پر افغانستان، عراق، سوریې، اوکراین او ځینو نورو هېوادونو د امریکا نظامي یرغل پر مهال د واشنګټن له دریځه د ملګرو ملتونو سازمان مغرضانه ملاتړ او د هغوی پر وحشتونو او مظالمو سترګې پټول دي.

داعش ډلې چې په لومړي ځل یې په ۲۰۱۳ کال کې په عراق کې سر را پورته کړ او وروسته یې خپل فعالیتونه سوریې او نورو هېوادونو ته وغځول، له پیله د امریکا او اسرائیلي استخباراتو په لاس جوړه شوې پروژه ګڼل کېده څو په سیمه کې د لوېدیځ ګټې تأمین او په خپلو وحشیانه اعمالو سره د اسلام او مسلمانانو اصلي څېرې ته زیان ورسوي، چې د امریکا د بهرنیو چارو پخوانۍ وزیرې هیرلي کلینټن هم د دې ډلې په جوړولو کې خپل لاس لرل تأیید کړي دي.

داعشي خوارجو په لومړي ځل په ۲۰۱۵ میلادي کال کې داسې مهال خپل فعالیتونه افغانستان ته راوغځول چې د اسلامي امارت مجاهدینو د هېواد ډېرکلي او بانډې د صلیبي ترهګرو او داخلي ګوډاګیانو پاکې کړې وې او د هغوی فعالیت یې یوازې په لویو ښارونو پورې محدود کړی وو. دغې تکفیري ډلې که څه هم د اسلامي خلافت ادعا درلوده، خو د دې پرځای چې د امریکایانو او د هغوی ملاتړو پر وړاندې وجنګېږي، په لومړي ځل یې په ننګرهار او ځینو نورو ولایتونو کې د اسلامي امارت مجاهدینو پرضد جګړه پیل کړه او په ډېرو مواردو کې یې د امریکا او نورو بهرنیو ځواکونو له‌خوا لوژستیکي او تسلیحاتي ملاتړ کېده چې ښې بېلګې یې په ننګرهار او جوزجان ولایتونو کې د امریکایي چورلکو پر مټ د مجاهدینو له محاصرې څخه د دغو جنګیالو ژغورل وو.

په افغانستان کې د دغې ډلې فعالیت ته هغه مهال لوېدیځو مطبوعاتو او د هغوی اړوندو سازمانونو پراخ تبلیغات کول، د ملګرو ملتونو سازمان د هغه مهال په یو رپوټ کې هم د داعشي جنګیالو شمېر په مبالغه‌آمیزه توګه له څلورو څخه تر شپږ زرو پورې وښودل شو او په داسې حال کې چې د داعش ډېرغړي بهرنیان وو، خو په رپوټ کې د دې لپاره چې دغې پروژې ته افغاني رنګ ورکړل شي، ویل شوي وو چې ډېر داعشیان د افغانستان تابعیت لري او د مهمو پوستونو مسوولیت هم د دوی پرغاړه دی.

د ملګرو ملتونو سازمان وروستی مغرضانه رپوټ هم داسې مهال په افغانستان کې د داعش ډلې د فعالیت په اړه خبر ورکوي او دغه مسئله د نړیوال امنیت ته جدي خطر ګڼي، چې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د دغې تکفیري ډلې پر پټنځایونو په سلګونو عملیات ترسره شوي او په ترڅ کې یې د هغوی مهم مشران یا وژل شوي او یا نیول شوي او له څو میاشتو راهیسې د هغوی د فعالیت هېڅ پېښه هم نه‌ده ثبت شوې. له دې سربېره د امریکا د ولسمشر جوبایډن په شمول د نړۍ ځینو مهمو نړیوالو مشرانو هم پر دې اعتراف کړی، چې په افغانستان کې د وسله‌والو ډلو فعالیت صفر ته رسېدلی او اوس مهال له یاد هېواد څخه د امریکا او نړۍ امنیت ته کوم ګواښ نه‌دی متوجه.

که څه هم استعماري هېوادونه په دې وتوانېدل چې په عراق او سوریه کې له داعشي تکفیریانو څخه په استفادې تر ډېره د جهادي ډلو په ځپلو سره خپلې موخې ترلاسه کړې، خو په افغانستان کې له پراخو تبلیغاتو او لګښتونو سره سره د هغوی دغه ستره توطیه ناکامه شوه او په دې بریالي نه‌شول چې له دغې ډلې په استفادې د جهاد او اسلام په بدنامولو سره خپلې استعماري موخې تطبیق کړي.

دا چې استعماري نړۍ په افغانستان کې شرمېدونکې ماتې خوړلې او د اسلامي امارت پر وړاندې د هغوی سیاسي او اقتصادي فشارونه هم بې پایلې دي، نو له همدې امله د ملګرو ملتونو سازمان په څېر د استعمار لاسپوڅي بنسټونه اوس هڅه کوي څو د افغانستان او اسلامي امارت په اړه سیمې او نړۍ ته ناسم او معکوس انځور وړاندې کړي.

# پر چین د افغانستان د سیاسي او اقتصادي ثبات اغېزې

**ثناءالله‌عمران**

بدلېدونکی جیوپولیتیکي حالت چین دې ته مجبوره کړ، چې اړیکې یې د افغانستان په ګډون له بېلا بېلو اړخونو سره ډېرې فعالې شي.

چین یو له هغو هېوادونو دی چې د پراخو طبیعي زېرمو او د خپل جیوپولیټیکي امنیت په موخه له افغانستان سره د اړیکو پراخولو په هڅه کې دی.

د ۲۰۲۳ زیږدیز کال په جنوری میاشت کې وروستۍ اقتصادي مشارکت، د کانونو او پټرولیم وزارت او د یو چینایي شرکت (افچین) ترمنځ د (۴۵۰) میلیونه ډالرو په ارزښت، د ۲۵ کلونو لپاره؛ د افغانستان په شمال د قشقري په سیمه کې د نفتو د اکتشاف او استخراج تړون لاسلیک کړ، چې دا په حقیقت کې د افغانستان اسلامي امارت ته د مشروعیت ورکولو په معنی دی.

همدارنګه د ۲۰۲۳ زیږدیز کال په اپریل میاشت کې د افغانستان اسلامي امارت د کانونو او پټرولیم وزارت په هېواد کې د لیتیم مینرال کانونو د اکتشاف او سپړلو په برخه کې د ګوچین (Gochin) په نوم د یو چینایي شرکت د لس میلیارد ډالرو پانګونې د لېوالتیا خبر ورکړ. د لیتیمو دغه تړون به په هیواد کې تر یو لک شل زرو پورې مستقیمې او ګڼې نورې غیرې مستقیمې دندې رامنځته کړي. چینایي شرکت د تړون د یوه اړخ په توګه ژمنه کړې چې په افغانستان کې به پر نویو بنسټیزو پروژو پانګونه وکړي.

فان چینا افغان شرکت د روان کال د جولای په اوومه ژمنه وکړه چې په راتلوونکو څو میاشتو کې به د کابو ۳۵۰ میلیونو ډالرو په ارزښت په افغانستان کې د برېښنا تولید، د سیمنټو فابریکې په جوړولو او د روغتیایي سکټور په برخه کې پانګونه وکړي.

تېر کال په ژمي کې چینایانو د ډېرو سکرو څخه د ۵۰۰ مېګاواټه برېښنا د تولید په برخه کې خپله لېوالتیا څرګنده کړې وه. د چین د سوداګرۍ خونې استازي د برېښنا شرکت له مشر محمد حنیف حمزه سره په لیدنه کې ویلي وو، چې چین په ۱۱ هېوادونو کې د ډېرو له سکرو د برېښنا د تولید په برخه کې تجربه لري.

د افغانستان اسلامي امارت د صنایعو او سوداګرۍ وزارت ویلي وو، چین لېواله دی دواړه هېوادونه د واخان دهلېز له لارې سره وتړي. همدارنګه څه موده وړاندې چین او پاکستان هم اعلان وکړ چې غواړي افغانستان د سي پیک پروژې ته ورشامل کړي. یوازې د چین-پاکستان اقتصادي دهلېز (CPEC) چې له اتو پلان شویو دهلېزونو یو دی او د یوې کړۍ یوې لارې نوښت سره تړاو لري، د ۶۲ میلیاردو امریکایي ډالرو پروژه ده.

د لوګر ولایت د عینک مسو کان د سپړلو قرارداد هم څوارلس کاله وړاندې یوې چینایي کمپنۍ سره لاسلیک شوی وو، چې د نړۍ په کچه د مسو یوه ستره زېرمه ده، خو د استخراج عملي کار یې نه دی پیل شوی، خوځه موده مخکې د کانونو او پټرولیم وزیر شهاب الدین دلاور له (MCC) شرکت څخه وغوښتل، چې خپل مسوولیتونه پوره کړي او د عینک د مسو کان استخراج پیل کړي چې قراردادي کمپنۍ هم په عملي توګه د خپلو چارو د پیل په موخه یاد کان ته د غځېدلي سړک د پخولو چارې پیل کړې چې دې چارې د دغې پروژې د تطبیق لپاره هیلې راټوکولي دي.

افغانستان چې د بډایو کانونو په درلودلو مشهور دی. پر هیواد د اسلامي امارت تر بیا ځلي ولکې وروسته د یادو کاني زېرمو سپړلو او ګټې اخیستنې ته تر بل هر وخت زمینه برابره شوې ده. د کانونو په برخه کې پانګونه؛ د چین او پاکستان اقتصادي دهلېز سره یوځای کېدل به اسلامي امارت ته د اقتصادي پیاوړتیا د فرصت تر څنګ افغانستان د ترانزیت د ثقل په مرکز بدل کړي.

له دې سربېره د افغانستان امنیتي وضعیت هم له دوو اړخو پر چین اغېز درلودلی شي. لومړی، که په افغانستان کې وضعیت څپڅپانده وي ښایي د چین د سین کیانګ سیمې ته هم وغځېږي، هغه سیمه چې له بېجینګ سره د مذهبي او توکمیز تاوتریخوالي اوږد تاریخ لري او چین له دې اړخه هم اندېښمن دی. د چین سره دا وېره له ډېره وخته مطرح ده. د دغه سیمې اویغور مسلمانان د بیجینګ له‌خوا سخت ځپل شوي او پر چین د بشري حقونو د پراخه سرغړونو تورونه لګول شوي. چین ته هم په‌کار ده چې په دې برخه کې د عامه مسلمانانو باور او احساساتو ته متوجه شي او د دغه سیمې له مسلمانانو سره داسې چلند ونه کړي چې هغه د بین المللي نورمونو خلاف او د نړۍ په کچه د عامو مسلمانانو د احساساتو د مجروح کېدو او پارېدلو لامل نه شي. دویم، په افغانستان کې بې ثباته وضعیت د یو کمربند او یوې لارې نوښت (BRI) پروژې پر پراختیا هم منفي اغېز کوي، ځکه د دغه لویې لارې دوه بنسټیز دهلېزونه له افغانستان سره نږدې تېرېږي؛ دا هغه لاره ده چې له نورې نړۍ سره د چین د سوداګرۍ لارې جوړوي. د نړیوالې بنسټیزې او پراختیایي پانګونې طرحې په توګه چې له ۶۰ څخه ډېر هېوادونه په‌کې شامل دي (البته په‌دې اړه رسمي شمېرې نشته)، چې په هغو کې یو شمېر د ختیځې آسیا او اروپایي هېوادونه شاملېږي؛ دغه نوښت د چین د نړیوال سیاسي او اقتصادي نفوذ د پراختیا یو وسیله بلل کېږي. دا ډول پراختیا د زبر ځواک چین د هیلو لپاره خورا مهمه ده.

چین په افغانستان کې د نوي رامنځته شوي وضعیت په اړه د ۲۰۲۳ کال اپریل کې خپل دریځ په ۱۱ ټکو کې واضح کړ. په ټوله کې بېجینګ واضح کوي چې د افغانستان خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او دیني او ملي ارزښتونو ته درناوی لري. په بېلابېلو ډګرونو کې د ملاتړ ډاډ ورکوي. د دغه ۱۱ ټکو له جملې څلور یې ترهګرۍ، افراطیت او بېلتون پالنې ته ځانګړي شوي دي. پر کابل د افغانستان اسلامي امارت د دویم ځلي ولکې مخکې ځینې مطرح چینایي ماهرین په دې اند وو چې چین له افغانستان او پاکستان سره د خپلې اقتصادي لېوالتیا په برخه کې د پاکستاني طالبانو او افغانستان اسلامي امارت له اړخه اندېښنه نه لري.

په لنډ مهال کې په افغانستان کې د چین له ټولو مهمه ګټه په اصل کې له امنیت سره تړاو لري، او اوس مهال افغانستان کې داسې امنیت راغلی چې په تېرو پنځو لسیزو کې یې شتون نه درلود. په منځ مهال کې چین په منځنۍ آسیا او پاکستان کې د یو کمربند او یوې لارې د نوښت پروژې د دوام او اسانتیا لپاره سیمه ییز ثبات ته وده ورکوي او په اوږد مهال کې غواړي چې د افغانستان طبیعي زیرمو ته لاسرسی ولري. د اسلامي امارت له لوري په لنډ وخت کې د ټول هېواد په کچه امنیت ټینګول چین دې ته لېواله کړی چې د خپلو اوږد مهاله موخو په لټه کې شي او د کانونو سپړنو او استخراج په برخه کې لویه پانګونه وکړي.

له ټولو مهمه دا چې، بیجینګ په دې اړه اندېښمن دی چې په افغانستان کې بدلونونه څنګه کولی شي د منځنۍ آسیا په ګاونډیو هېوادونو، پاکستان او چین کې په ځانګړې توګه د دغه هېواد په لوېدیځ سینکیانګ کې پر ثبات منفي اغېز کوي. د راتلوونکو څو کلونو لپاره، دا امنیتي موخې به د پانګونې او سوداګرۍ څخه د هر ډول اقتصادي لاسته راوړنو پر ځای، له افغان حکومت سره د چین راتلونکی اقتصادي تعامل ټاکي.

سره له دې چې چین لرې ختیځ، د چین په سویلي سمندرګي کې، تایوان سره بالقوه جګړه او امریکا متحده ایالاتونو سره سیالۍ ته ورته مسائلو کې بوخت دی، خو خوندي افغانستان به د چین د نفوذ یو قوس رامنځته کړي، چې د چین له لوېدیځو سیمو د قزاقستان، قرغزستان، تاجیکستان، ازبیکستان، ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او ایران هېوادونه په‌کې شامل دي. دا سیمه به د لویو لارو، ریل پټلۍ او پایپ لاینونو له لارې له چین سره ونښلول شي چې دا چاره به د چین په صنعتي سکتور کې د دوی ګټې خوندي کړي. دا کار به چین ته هم ګټه ورسوي ځکه چې د متحده ایالاتو سره د نړۍ د زبر ځواک جوړېدو پر سر په سیالۍ بوخت دی.

د اروپا پارلمان په یوه تازه څېړنه کې چې د افغان-چین د راتلوونکو اړیکو په تړاو شوې، د نورو سیمه‌ییزو لوبغاړو په خلاف، چین د نړۍ په کچه یو مخکښ اقتصاد ګڼل کېږي چې په بین المللي صحنه کې د یوه پیاوړي او بلامنازعه دریځ سره شتون لري، نو ځکه دغه هېواد کولی شي د اسلامي امارت لپاره مالي پانګونه او سیاسي مشروعیت راوړي. چین د یو کمربند او یوې لارې نوښت (BRI) پروژې لپاره یو مل، خوندي او باثباته افغانستان ته ارزښت ورکوي، چې دې ته چین د سینکیانګ د سیمې لپاره د ثبات د نښې په سترګه ګوري، او په منځنۍ آسیا کې به د هغه د سیمه ییز تفوق د تثبیت په برخه کې مرسته وکړي.

یو شمېر څېړونکي بیا په دې باور دي چې اسلامي امارت سره د چینایانو ډېرېدونکی تعامل تر ډېره د اقتصاد په پرتله د امنیتي ملحظاتو پر بنسټ دی. د هغوی په باور بېجینګ په دې هڅه کې دی چې په سیمه کې د ختیځ ترکستان اسلامي غورځنګ (ETIM) د نفوذ او د نورو محتمله خنډونو مخنیوی وکړي. د (ETIM) خوځښت د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د بندیزونو په لیست کې قرار لري.

په افغانستان کې د اشغالګرو په ماتې سره په سیمه کې چین د کرارۍ ساه واخیسته او نور نه غواړي چې د دوی پولې ته نږدې امریکا فزیکي حضور ولري او په دې برخه کې نه یوازې چین بلکې ټول سیمه‌ییز هیوادونه د اسلامي امارت د مقاومت او سرښندونو مدیون دي چې د غربي امپریالیزم د بالفعل او بالقوه شرارت څخه یې لرې کړل. اوس ګاونډیو او د سیمو هیوادونو ته لازمه ده چې د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره او د متقابلو مشروع ګټو پر بنسټ بهرني سیاست څخه په ګټنې رغنده تعامل ته را وړاندې شي.

په هرصورت، چین له اسلامي امارت سره د تعامل لپاره خپلې ستراتېژیکي اړتیاوې لري. د چین رهبري په دې هیله ده چې د پانګونې له لارې به افغانستان په دې قانع کړي چې خپل انقلاب تر خپل هېواد پورې محدود او نورې سیمې ته یې صادر نه‌کړي. دا په ځانګړې توګه د سینکیانګ به اړه صدق کوي، چېرې چې د چین حکومت له ځایي ایغور مسلمانانو سره د ناوړه چلند له امله تر توندو نیوکو لاندې دی.

د اسلامي امارت بېلا بېلو لوړ پوړ چارواکو نه یوازې د چین بلکې د یو شمېر نورو هیوادونو او بین المللي سازمانونو له لوري د دې اندېښنې په څرګندولو سره چې ګواکې د افغانستان له خاورې څخه دوی ته امنیتي ستونزې جوړ نه شي، په وار وار ویلي چې هېڅکله به چا ته اجازه ورنه کړي چې د افغانستان خاوره د نورو په وړاندې وکاروي. همدارنګه یادو چارواکو ویلي چې پر ښه ګاونډیتوب، متقابل احترام او د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې اصولو ته ژمن دي.

# سوداګریزی اسانتیاوې په پراختیا مومي

متین

زموږ ګران هېواد افغانستان د جغرافیایي جوړښت له مخې په سیمه کې د ارزښت وړ ګڼل کیږي نو ځکه ورته د آسیا زړه هم وایې دا هېواد د ګاونډیانو له پاره د وصل او اتصال نقطه او د ډېرو هېوادو د اقتصادي راکړې ورکړې له پاره مناسبه او ګټوره لارښودل شوي خو تر ډېره د وخت واکمنانو تري ګټه نه ده پورته کړې یوازي او یوازي یې د هغو ګاونډیانو سره ترانزیتی اړیکې ټینګکې کړی چې د هغوي ګټی پکښې خوندي ساتل کیږي هېوادوال په تیرو کلونو کې شاهد ؤ چې ځینو ګاونډیانو د خوراکي توکو د کمښت پر مهال سوداګریزي هوکړې په پام کې نه نیولې هغه څه ته به یې لاس ورغزاوه چې زموږ د هېوادوالو ستونزي پرې ور زیاتیدي له دي کبله اړینه وه چې د نورو لاروليټون پیل شي ترڅو په هېواد کې د خوراکي او نورو لومړنیو توکو د کمښت او د نرخونو لوړوالي مخه ونیول شي. همدا وجهه ده چې دا مهال پرته له دي چې د پاکستان، ایران سره مو سوداګریزی چاري پراختیاومومي ورسره جوخت د شمالي ګاونډیو هېوادو سره مو هم سوداګریزه راکړه ورکړه زیاته شوي چې له امله یې په هېواد کې د خوراکي توکو ترڅنګ لومړني مواد هم په مناسبه بیه پلورل کیږي هېوادوال به خبروي چې زموږ په ګاونډ کې د خوراکي موادو بیه څومره لوړه شوي خو زموږ په هېواد کې د اسلامي امارت د مسئولینو په نه ستړې کیدونکو هلو ځلو سره نه تنها د خوراکي توکو بیه کمه شوی بلکې د نورو نړیوالو هېوادو په پرتله هم په خوراکي توکو کې پریماني او ارزانښت رامنځ ته شوی. راپورونه تر لاسه شوي چې اسلامي امارت اړوند مسؤلین په دي بوخت دی چې ګاونډي هېوادونه خپلو لاس لیک شویو ژمنو ته ژمن پاتی شي ځکه ژمنو او هوکړه لیکونو ته ژمن پاتی کیدل د هېوادونو ترمنځ د باور فضا رامنځ ته کوي او سوداګریزي چاري سمون او پراختیامومي همدا اوس د ازبکستان د ګاونډي هېواد د دیرش کسیز پلاوی چې مشري یې د ازبکستان د سوداګری او صنعت وزارت لومړی مرستیال کوي کابل ته په دوه ورځنی سفر راغلي په دي سفر کې به راغلي پلاوي د اسلامي امارت د مسؤلو چارواکو سره په سوداګریزو برخو کې خبري وکړي ترڅو په راتلونکی کې د زیاتو اسانتیاؤ د رامنځ ته کیدو ترڅنګ په مختلفو برخو کې اړیکی پراختیا ومندل شی. د ازبکستان هېواد وارد مخه د بریښنا، ټیکنالوژي او خوراکي توکو په برخه کې د همکاري لیوالتیا ښودلي وه کابل ته راغلي پلاوي به د دواړو حکومتی او خصوصي سکتورونو سوداګریز استازي خپل مینځی ناستی ترسره کړي او د سوداګریزو اړیکو څرنګوالی او پرمختګ په هکله به لازم تصمیمونه ونیسی. دا په داسی حال کې ده چې اسلامي امارت د هېوادوالو لومړیتوبونه درک کړی هڅه کوي چې د نړیوالو د بندیزونو سره سره هغه لاري ولټوی کومی چې د هېوادوالو د هوساینی له پاره اړینی دی.

د اسلامي امارت د امیرالمؤمنین د فرمان له مخې چې سوداګرو ته یې د زیاتو اسانتیاو د برابرولو په هکله صادر کړی هڅه به وشي چې مسؤلین د فرمان په تطبیق کیدو سره د سوداګرو په وړاندې خنډونه او ستونزي له منځه یووسی ترڅو په هېواد کې اقتصادي بیارغاونه ګړندیتوب ومومي او هېواد د پردیو هېوادو له احتیاج څخه د تل له پاره خلاص او په ځان بسئیا هېواد ولرو.

# نگاهی به ارزش اقتصادی و اجتماعی پروژه کابل جدید

ابوالیاس



طوری‌که آگاهی داریم کار قطعه دوم فاز اول پروژه جدید که در ۷۴۰هکتار زمین طراحی شده و با داشتن ۲۳۰۰ خانه مسکونی گنجایش ۱۲۰۰۰ نفر را دارد، به‌تاریخ ۲۶ اسد سال جاری در حضورداشت مقامات ارشد امارت اسلامی با امضای قرارداد میان وزارت شهرسازی و مسکن و یک شرکت خصوصی رسماً آغاز شد. این شهر که از تمام امکانات عصری برخوردار خواهد بود، در کنار فراهم شدن کار و تجارت به تعداد زیادی از شهروندان کشور، از ازدحام شهر کنونی کابل نیز به حد کافی می‌کاهد. کابل جدید که در ساحه شمال شهر کنونی کابل موقیعت دارد، تمام ساحات ولسوالی ده‌سبز و شکردره، بخشی از ساحات ولسوالی‌های قره باغ، استالف و کلکان و هم‌چنان ساحه باریک آب ولسوالی بگرام ولایت پروان را در بر می‌گیرد. کار روی طرح ماستر پلان این برای نخستین بار در سال ۲۰۰۶ میلادی توسط یک گروه مستقل توسعهٔ شهری متشکل از انجینران افغان، فرانسوی و المانی آغاز و در سال ۲۰۰۸ آماده شد که بعداً طی جلسهٔ مورخ ۲۰۰۹/۴/۲۰ و مصوبه شمارهٔ (۱) شورای وزیران نظام قبلی مورد تأیید قرار گرفت. مرحله اول اعمار این شهر که باید مطابق پلان مطرحه در سال ۲۰۱۰ آغاز و الی ۲۰۲۵ تکمیل می‌شد که طی آن برای یک و نیم میلیون تن ۲۵۰ هزار منزل مسکونی ساخته می‌شد، بنابر مشکلاتی چون غصب زمین شامل ماستر پلان از سوی زورمندان، فساد گسترده در ادارت مربوطه، نبود بودجه کافی، عدم سرمایه گذاری در ساخت زیربناها، مدیریت ضعیف و نداشتن کارگران حرفه‌یی کار عملی آن آغاز نگردید. اما خوشبختانه با پیروزی امارت اسلامی با از بین رفتن جزیره‌های قدرت و استرداد زمین‌های غصب شده از سوی زورمندان و توجه لازم برای خودکفایی کشور از طریق منابع داخلی، کار عملی این شهر نیز پس از تصفیه زمین‌های تحت ماستر پلان آن عملاً آغاز شد. این پروژه بزرگ ملی که در ۷۴۰ کیلومتر مربع ( ۳۷۰ هزار جریب) زمین ساخته می‌شود، وسعت آن نسبت به شهر کنونی کابل تقریباُ یک و نیم برابر بیشتر می‌باشد که ظرفیت ۳ میلیون نفوس را داشته و با هزینه ۳۵ میلیارد دالر زمینه کار برای ۲۰۰ تن راه فراهم خواهد کرد. در شهر جدید علاوه بر منازل مسکونی، ساحات تفریحی و زراعتی به ظرفیت صدها هکتار زمین ۵ پارک صنعتی نیز در نظر گرفته است که این کار نه تنها مشکلات کنونی فراراه متشبسین را حل خواهد کرد، بلکه زمینه را برای توسعه سرمایه‌گذاری در کشور نیز فراهم کرده می‌تواند. هم‌چنان طبق ماستر‌پلان، آب این پروژه نیز از دریای پنجشیر تمویل گردد و قرار است نورم آب را از ۹۰ لیتر به ۱۲۰ لیتر فی نفر در روز برسانند که مصارف روزانه آن ۳۶۰٬۰۰۰ متر مکعب و مصارف ساله آن نیز بیش از ۱۲۹ میلیون متر مکعب تخمین شده است که با این کار در کنار مدیریت آب‌های روان کشور از مصرف بی رویه آب‌های زیرزمینی نیز تا حدی جلوگیری می‌شود. در کنار این با تطبیق این پروژه وضعیت نابسامان شهر کونی نیز بهبود خواهد یافت زیرا، شهر کنونی که برای ۵۰۰-۷۵۰هزار ساکن طراحی گردیده بود، نفوس کنونی آن قرار سروی سال ۱۳۹۹ اداره احصائیه مرکزی و معلومات به بیش از ۵ میلیون نفر رسیده است و حدود ۶۸فیصد نفوس آن در خارج از نقشهٔ شهری در خانه‌های خود سر زنده‌گی می‌نمایند. که این روند شهر را با مشکلاتی چون تراکم جمعیت، آلوده‌گی آب و هوا، ساخت غیرمعیاری خانه‌ها، کاهش آب‌های زیر زمینی، نبود سیستم فاضلاب، ازدیاد زباله‌ها، فقدان سیستم مرکز گرمی و قطع برق روبرو کرده است. که با اعمار شهر جدید و انتقال برخی از ساکنین آن به محل جدید از این مشکلات نیز تا حد زیاد کاسته خواهد شد. از سویی هم با آغاز کار عملی کابل جدید در کنار مزایایی دیگر برای ۲۰۰ هزار تن به‌طور مستقیم و غیرمستقیم زمینه کار را فراهم خواهد کرد که این روند تا حد زیاد از معضله بی‌کاری در کشور می‌کاهد. با وجودی‌که طی چهار دهه اخیر شاهد کمک میلیاردها دالر از سوی کشورهای سلطه‌جو و اشغالگر با افغانستان بودیم اما بیشتر این کمک به‌منظور تأمین اهداف مغرضانه کشورهای متجاوز در پروژه‌های مقطعی و روبینایی به‌مصرف می‌رسید که هیچ‌گونه تغییر مثبت و دائمی را در زنده‌گی مردم وارد نکرد. اما با حاکمیت دوباره امارت اسلامی با وجود قطع کمک‌های کشورهای خارجی، توجه به مدیریت و ازدیاد عواید داخلی، تأمین مصارف از منابع داخلی و تطبیق پروژه‌های زیربینایی بیشتر شده است که این کار مردم را به خودکفایی اقتصادی کشور و بیرون شدن افغانستان از یک کشور مصرفی به یک کشور عایداتی بیش از پیش امیدوار نموده است.

# ښاغلي حکمتیار صاحب ته د وروري مشوره!

سعید غلجی

څو ورځې وړاندې عدلیې وزارت ملت ته د حساب ورکولو پر مهال وویل، چې سیاسي ګوندونه یې ځکه منحل کړي، چې شرعي حیثیت نه لري او ملت ته یې هېڅ ګټه نه ده رسولې. ویل کېږي، چې په عدلیه وزارت کې د ثبت ګوندونو شمېر آن له ۵۰ هم اوښتی، چې په دې کې یو څه یې پخواني دي، مګر د صلیبي اشغال په شل کلنه دوره کې په مختلفو نومونو نور ډېر ګوندونه او په سلګونو ټولنې ایجاد شوې، چې بې له شکه هر ګوند او ټولنه یې د یو مشخص تخریب لپاره ایجاد شوې او مستقیماً له بهرنیو استخباراتي کړیو سره اړیکې لري.

دا چې دغو ګوندونو او ټولنو په ملت کې ریښې نه درلودې، خلک ترې ستړي وو، چا یې ملاتړ نه کاوه او یوازې په بهرنیو مرستو پایېدل، نو له همدې امله د اسلامي امارت په راتګ سره اکثره ګوندونه او نورې ټولنې سقوط او مشران یې بهر ته وتښتېدل، مخکې له دې، چې د عدلیې وزارت یې رسماً د لغو کولو اعلان وکړي. یوازې ښاغلی حکمتیار او په ښکته کچه ځینې نور اشخاص پاتې دي، چې هغوی هم سیاسي فعالیت پرې ایښی دی.

خو د عدلیې وزارت له خوا د ګوندونو د لغو کولو له رسمي اعلان وروسته، ورمه ورځ ښاغلي حکمتیار وویل، چې له احزابو پرته ملتونه په قومونو او قبیلو وېشل کېږي، نو د اسلامي امت د یووالي لپاره احزاب یو ضرورت دی. که حزب اسلامي نه وای جوړ شوی، نو پر افغانانو به د شوروي مقابله نه کېده او نه د ناټو. دغه راز؛ یو دلیل یې دا هم وویل، چې الله تعالی ټول مؤمنان د «حزب الله» په نوم یاد کړي.

خو حقیقت دا دی، چې د همدې ګوندونو له امله اسلامي امت په ډلو، ټپلو ووېشل شو، دا سمه ده،چې د مسلمانانو لپاره حزب او جماعت ضروري دی، مګر فقط (یو)، کله چې احزاب متعدد شي، نو د امت تر منځ اختلاف حتمي دی. د حکمتیار صاحب خپل دلیل هم د همدې شاهدي ورکوي، چې حزب باید (یو) وي. الله تعالی مؤمنان د «حزب الله» په نوم یاد کړي، نه د احزابو.

دا تجربه باید حکمتیار صاحب خپله هم ولري، کله چې اسلامي نهضت راپورته شو او بیا په ډلو، ټپلو ووېشل شو، نو هماغه ؤ، چې د شوروي اشغال او کمونستي رژیم له ماتې وروسته، همدغه احزاب خپلو کې ونښتل، د شهیدانو ارمانونه خاورې شول او د قوي اسلامي نظام د اقامې پر ځای، داخلي جګړه پیل شوه،چې د دې ټولې بدبختۍ لامل یوازې همدا و، چې احزاب متعدد وو.

مګر دا ځل چې افغانانو د اسلامي امارت د واحد صف تر قیادت لاندې د صلیبیانو او د هغوی د ګوډاګیانو ټغر ورټول کړ، نو الله تعالی له داخلي جګړو او نورو بدبختیو وساتلو او د شهیدانو د ارمان مطابق، قوي اسلامي نظام حاکم شو. دغه راز؛ د حکمتیار صاحب دا دلیل، چې «که حزب اسلامي نه وای، نو افغانانو به شوروي او ناټو ته ماتې نه وه ورکړې» ځکه کمزوری دی، چې الله تعالی په هره زمانه کې د یوې ډلې په واسطه د مسلمانانو مرسته کوي.

دا سمه ده چې د شوروي په ماتې کې افغانانو د حزب اسلامي په قیادت ښه جهاد وکړ او د شورویانو او کمونیستي رژیم په ماتې کې یې بارز رول درلود، مګر پخوا چې حزب اسلامي نه ؤ، هم افغانانو او عموماً مسلمانانو له کفارو سره جګړې کولې او هغوی یې مات کړي او چې حزب اسلامي نه وي، بیا به هم جهاد جاري وي.

دا د حکمتیار صاحب او حزب اسلامي احسان نه دی، چې جهاد یې وکړ او دا وطن یې له کمونیستي اشغاله خلاص کړ، بلکې دا د الله تعالی احسان او لورېنه ده، چې یو څوک د خپل دین د دفاع لپاره قبول کړي.

اوس الحمدلله؛ د حزب اسلامي او نورو ټولو هغو ډلو او مجاهدینو ارمان پوره شوی، چې د صلیبي یرغلګرو ماتې او د اسلامي نظام قائمېدل یې غوښتل، نو راشئ په ګډه د همدې اسلامي نظام قوت او استحکام ته کار وکړو. اوس خو هدف تر لاسه شو، نور نو احزابو ته څه ضرورت!؟ خدای مه کړه، که بیا ضرورت شو، بیا هم همدا ملت ژوندی دی.

بناءً؛ ښاغلي حکمتیار صاحب ته د اکثرو دیندارو هېوادوالو د ورورۍ مشوره همدا ده، چې راشه، یو ستر اخلاقي جرئت وکړه، په خپل ژوند خپل حزب لغو اعلان کړه، قسم په الله! دا کار به هېڅکله ستاسې عزت او حیثیت ته هېڅ تاوان ونه رسوي، بلکې حتماً به مو په دې کار سره عزت او حیثیت نور هم لوړ شي. تاسې په ډېر جرئت سره ویلای شئ، چې ما خپل حزب ځکه ختم کړ، چې زموږ او د ټولو مجاهدینو ارمان پوره شو، یرغلګر مات او اسلامي نظام حاکم شو، نو د مسلمانانو د اتحاد او قوت لپاره زه له خپل حزبه تېر یم!

که داسې وشي، نو ان شاء الله د اسلامپاله هېوادوالو تر منځ به پوره اتحاد رامنځ ته او د کفارو پر وړاندې به اسلامي سنګر نور هم محکم شي.

خو که داسې ونه شي، نو احزاب خو هسې هم لغو شول، هېڅوک دومره قوت او حجت نه لري، چې په دې هکله د اسلامي امارت مخالفت وکړي،نو چې جبراً یو کار تر سره کېږي، ولې هغه کار د رضاء، مصلحت او اسلامي اخوت په فضاء کې تر سره نه شي.

دغه راز؛ دا حقیقت هم باید په پام کې ونیول شي، چې حزب اسلامي پخوا ځکه قوي وو، چې قوي داعیه یې درلوده، د کمونېزم په مقابل کې ولاړ ؤ، اما اوس داسې څه داعیه نه لري، چې خلک پرې راغونډ شي، داسې خو نه ده چې هماغه مجاهدین به تر قیامته د حکمتیار صاحب اشارې ته منتظر وي، د مجاهدینو اصلي اهدف جهاد او د اسلامي نظام قائمېدل ؤ، نو د همدې هدف لپاره تا سره ملګري وو، اوس چې الحمدلله؛ هغه هدف تر لاسه شو، نور نو هېڅوک د خپل مشر، ټولنې او ډلګۍ کیسه کې نه دي، اوس د اسلامي نظام حمایت او دفاع د ټولو اسلامپالو مشترکه نقطه ده. خلاصه دا چې، که حکمتیار صاحب له دغه فرصته سالمه استفاده وکړي، نو دغه قضیه به په ښه ډول پای ته ورسېږي، هم به د حکمتیار صاحب نوم ښه یادېږي، هم به د اسلامپالو سنګر قوي او متحد شي او هم به د حزب اسلامي ګوند پیل او پای په ښه ډول تمام شي، خو که دغه فرصت ضایع شو، نو حزب هسې هم ختم دی، ځکه یو خو یې داعیه نشته، بل دا چې اسلامي امارت ګوندونه منحل کړي، نو هېڅوک هېڅ ډول فعالیت نه شي کولای او دریم دا چې د حکمتیار صاحب ملګري کم شوي، ځینو یې لا د صلیبي اشغال په پیل کې لاره ترې جلا کړه او ځینې یې وفات او شهیدان شول او ځینې نور چې اوس ورپاتې، هغوی هم یوازې پر همده ورټول دي، بل داسې بدیل نه لري، چې د ده له وفات وروسته د حزب ملګري همدغه شان پرې ورټول شي. معنی دا چې حکمتیار صاحب د عمر په وروستۍ مرحله کې دی او له ځان وروسته هم داسې څوک نه لري، چې ګوند یې پرې ورټول شي او د ده له وفات وروسته دا ګوند خپله له منځه ځي. نو ایا دا مشوره غوره نه ده!؟

دغه راز؛ نورو اسلامي ټولنو ته مو هم همدا پیغام دی، چې مسلمانانو تر منځ د یووالي په خاطر نور له هر ډول نومونو او عنوانونو تېر شئ، راشئ په ګډه د همدې اسلامي نظام ملاتړ وکړو، هر څه چې کوو باید تر همدې واحد عنوان لاندې یې وکړو، همدا مو وروستی مورچل دی.

# د پانګې اچونې او سرمایه ګزارۍ ارزښت:

**مولوي نورالحق مظهري**

معلومـه خبـره ده چـې د انسـان لـه خلقتـه د اللـه تعالـی یـو حکمـت دا وو چـې انسـان پـه مځکـه کـې ژونـد وکـړي او مځکـه آبـاده کـړي لکـه چـې صالـح علیـه السـلام خپـل قـوم تـه وایـي: هُـوَ أَنْشَـأَكُمْ مِـنَ الْأَرْضِ وَاسْـتَعْمَرَكُمْ فِيهَا.[هـود٦١] ژبـاړه: اللـه تعالـی تاسـې د مځکـې څخـه پیـدا کـړي یاسـت او تاسـې یـې د مځکـې آبادوونکـي ګرځولـي یاسـت. یعنـې مځکـه آبـادول ستاسـې دنـده او وظیفـه ده.

البتـه د انسـان لومـړی مکلفیـت د اللـه تعالـی د دیـن منـل دي او بیـا د دیـن پـه چـوکاټ کـې پـه ظاهـري بڼـه د مځکـې آبـادول دي ځکـه یواځـې ظاهـري آبـادي د اللـه تعالـی نـه خوښېږي کـه نـه نـو عادیـان، ثمودیـان او فرعونیـان بـه یـې نـه واې غندلـي چـې هغـوی پـه خپـل وخـت کـې ډېـرې دنګـې دنګـې ودانـۍ جـوړې کـړې وې، لارې او سـړکان یـې ځانونـو تـه جـوړ کـړي وو او د هغـه وخـت تخنیـک او تکنالـوژۍ تـه یـې هـم پـوره لاسرسـي درلودلـه.

اللـه تعالـی تـه هغـه آبـادي او ترقـي منظـور ده چـې د الهـي رسـالت پـه چـوکاټ کـې د ننـه وي او د فسـاد، ظلـم او ناحقـۍ تـر سـایې لانـدې نـه وي.

د مځکې ظاهري آبادي په څه شي کېږي؟

د مځکـې د ظاهـري آبـادۍ لپـاره لـه ټولـو مهـم کار پانګـه اچونـه یـا سـرمایه ګـزاري ده پـه دې معنـی سـره چـې انسـان د مځکـې د آبـادۍ لپـاره مـال مصـرف کـړي او د کرونـدې، تجـارت، صنعـت، معادنـو اسـتخراج، کار موندنـې او نـورو عایداتـي لارو څخـه د مځکـې پـه آبـادۍ او اقتصـاد پـه وده کـې کار وکـړي.

په آبادۍ او کار کې د اسلام تشویق:

پـه کار کـې جدیـت ډېـر مهـم دی ځکـه چـې بېلـه جدیـت څخـه کار سـم پـر مـخ نشـي تلـلای عبدالله بـن عمـرو بـن العـاص رضـي اللـه عنـه روایـت کـوي چـې رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم وفرمایـل: فَاعْمَـلْ عَمَـلَ امْـرِئٍ يَظُـنُّ أَنْ لَـنْ يَمُـوتَ أَبَدًا.[شـعب الإيمـان ٣٦٠٣]ژبـاړه: د داسـې سـړي کار وکـړه چـې دی داسـې ګمـان کـوي چـې ګرسـره نـه مـړ کېـږي. یعنـې پـه مـات او سـوړ زړه کار مکـوه بلکـې پـوخ او اساسـي کار وکـړه لکـه هغـه څـوک چـې ددې ګمـان کـوي چـې دی ګرسـره نـه مـړ کېـږي.

همداسـې عبداللـه بـن عمـر رضـي اللـه فرمایـي: احـرث لدنيـاك كأنـك تعيـش أبدا.[اصـلاح المـال لإبـن أبـي الدنيـا ٤٨]ژبـاړه: د خپلـې دنیـا لپـاره داسـې کار وکـړه لکـه تـه چـې تـل ژونـدی اوسـې.

دا معلومـه خبـره ده چـې انسـان مـړ کېـږي او د تـل لپـاره ژونـد نـه شـي کـولای نـو د دې دواړو آثـارو څخـه هـدف دا دی چـې تاسـې د دنیـا کار پـه ټینـګ هـوډ او لـوړې روحیـې سـره وکـړئ او پـه خپلـو کارونـو کـې داسـې جـدي وسـئ لکـه تاسـې چـې ګرسـره نـه مـړه کېـږئ ځکـه یـو څـوک کـه پـوه شـي چـې زه نـه مـړ کېـږم ارومـرو بـه ډېـر پـوخ او اساسـي کار کـوي.

پـه کار کـې جدیـت او هیلـه منـدي دومـره مهمـه ده چـې پـه حدیـث کـې راځـي: عَـنْ أَنَـسِ بْـنِ مَالِـكٍ قَـالَ: قَـالَ رَسُـولُ اللـهِ صَلَّـى اللَّـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ: إِنْ قَامَـتْ عَلَـى أَحَدِكُـمُ الْقِيَامَـةُ، وَفِـي يَـدِهِ فَسِـيلَةٌ فَلْيَغْرِسْهَا.[مسـند احمـد ١٢٩٣٣] ژبـاړه: انس بـن مالـک رضـي اللـه عنـه روایـت کـوي چـې رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم وفرمایـل: کـه پـر یـوه ستاسـې قیامـت راشـي او دده پـه لاس کـې یـو نیالګـی وي نـو هغـه دې کېـږدي. پـدې حدیـث کـې دې خبـري تـه اشـاره ده چـې انسـان دې د کار پـه کولـو کـې وخـت او پایلـې تـه نـه ګـوري بلکـې چـې څومـره وخـت یـې پیـدا کـړ خپـل کار دې وکـړي کڅـه هـم ډېـر لـږ وخـت وي ځکـه چـې د کار کـول ډېـر مهـم او اړیـن دي.

حسـن بصـري رحمـه اللـه هغـه چـا تـه دعـا کـړې چـې د خپـل ژونـد لپـاره مالـي امکانـات برابـروي: عـن الحسـن قـال: رحـم اللـه عبـدا اكتسـب حـلالا وأنفـق قصـدا وقـدم فضـلا ليـوم فقـره وفاقته.[تهذيـب الآثـار ٣٥٦]ژبـاړه: حسـن بصـري رحمـه اللـه وفرمایـل: اللـه تعالـی دې پـر هغـه چـا رحمـت وکـړي چـې حـلال کار وکـړي، پـه اعتـدال بانـدې مـال مصـرف کـړي او د خپـل فقـر او لـوږې لپـاره تـر ځـان اضافـه مـال ذخیـره کـړي.

دا یقینـي خبـره ده چـې د ځـان لپـاره مـال هغـه وخـت ذخیـره کېـدلای شـي چـې انسـان مـال ولـري او مـال هغـه وخـت پیدا کـولای شـي چـې کار، تجـارت او سـرمایه ګـزاري وکـړي. د پورتـه حادیثـو او آثـارو پـه څېـر ډېـر احادیـث او آثـار شـته چـې د کار پـر فضیلـت او کار کوونکـي پـر تشـویق دلالـت کـوي او پـه دنیـا کـې د مـال پـه کاروبـار کـې مسـلمانانو تـه د فعالیـت او ډېـر کار کولـو روحیـه ورکـوي.

سـرمایه ګـزاري یـا پانګـه اچونـه هغـه کړنـه ده چـې پـه ذریعـه یـې انسـان تـه شـخصي او عمومـي مالـي ګټـه رسـېدلای شـي لـه همـدې املـه د هـر هیـواد وګـړي کـه د ځـان او هیـواد لپـاره مالـي او اقتصـادي پـر مختـګ غـواړي خپلـه دې هـم پانګـه اچونـه وکـړي او نـورو خلکـو تـه دې هـم د پانګـې اچونـې زمینـه برابـره کـړي.

پـه هـر هېـواد کـې چـې څومـره ډېـره پانګـه اچونـه کېـږي پـه هماغـه کچـه یـې هیـواد صنعتـي کېـدلـو او بـډا کېدلـو تـه درومـي او د دې تـر څنـګ چـې ډېـرې مالـي سـتونزې بـه ورسـره ختمـي شـي د هیـواد ډېـرو اوسـېدونکو تـه بـه د کار فرصتونـه پـه لاس ورشـي، هیـواد بـه د نـورو هېوادونـو د مالـي بـوج او فشـار څخـه خـلاص شـي او اقتصـادي خپلواکـي بـه تـر لاسـه کـړي.

پـه اسـلامي هېوادونـو کـې لکـه خپلـه مسـلمانان چـې پانګـه اچونـه کـولای شـي غیـر حربـي کافـر تـه هـم اجـازه د پانګـې اچونـې ورکـولای شـي البتـه کـه مسـلمانانو تـه کـوم دینـي او سیاسـي تـاوان ونـه لـري؛ پـه اثـر کـې راځـي: عـن ابـن عمـر رضـي اللـه عنهمـا، قـال «أعطـى رسـول اللـه صلـى اللـه عليـه وسـلم خيبـر اليهـود أن يعملوهـا ويزرعوهـا، ولهـم شـطر مـا يخـرج منهـا.[ فتـح البـاري ج٥ / ١٣٥]ژبـاړه: د عبداللـه بـن عمـر رضـي اللـه عنـه څخـه روایـت دی چـې رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم خیبـر یهـودو تـه ورکـړ ترڅـو کار پـه کـې وکـړي او ویـې کـري او مسـلمانانو تـه یـې د حاصـل یـوه برخـه ورکـړي.

همداسـې پـه ابـوداود شـریف کـې راځـي: فَلَمَّـا صَـارَتِ الأَمْـوَالُ بِيَـدِ النَّبِـيِّ -صلـى اللـه عليـه وسـلم- وَالْمُسْـلِمِينَ لَـمْ يَكُـنْ لَهُـمْ عُمَّـالٌ يَكْفُونَهُـمْ عَمَلَهَـا فَدَعَـا رَسُـولُ اللَّـهِ -صلـى اللـه عليـه وسـلم- الْيَهُـودَ فَعَامَلَهُـمْ.[سـنن ابـي داود ٣٠١٦] ژبـاړه: کلـه چـې مالونـه د رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم لاس تـه ولوېـدل او مسـلمانانو د کار لپـاره کافـي مـزدوران نـه درلـودل نـو رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم یهـودان را وغوښـتل او معاملـه یـې ورسـره وکـړه.

زموږ په هېواد کې پانګه اچونه:

دا ښـکاره حقیقـت دی، چـې مـوږ تـر بـل هـر وخـت اوس پـه خپـل هېـواد کـې پانګـې اچونـې تـه ډېـر ضـرورت لـرو ځکـه نـو بایـد خپلـه هـم پـه هیـواد کـې پانګـه اچونـه وکـړو او نـور کسـان هـم پانګـې اچونـې تـه وهڅـوو او پـه دې کار کـې هـر څـوک تـر خپلـه توانـه خپـل مسـئولیت سـر تـه ورسـوو.

لـه ټولـو مخکـې نظـام تـه دا مسـئولیت راجـع کېـږي چـې د پانګـې اچونـې لپـاره آسـانتیاوې برابـرې کـړي او خپـل افغـان تجـاران، بهرنـي تجـاران او مؤسسـات پانګـې اچونـې تـه وهڅـوي وروسـته خبـره تجارانـو او فعالـو ولسـي وګـړو تـه راجـع کېـږي چـې پـدې خبـره کـې د مسـئولیت پـه آداء کولـو سـره کارنـده کار وکـړي.

زه بـاوري یـم کـه د وزارتونـو څخـه بیـا تـر ولایتونـو او ریاسـتونو پـورې دې موضـوع تـه جـدي پاملرنـه وشـي او د یـوه سـالم میکانېـزم لـه مخـې پانګـه اچوونکـي را جـذب شـي دا بـه د هیـواد پـه آبـادۍ کـې او بېکارۍ پـه ختمولـو کـې ډېـر ښـه مؤثـر تمـام شـي البتـه اسـلامي اصـول، د نظـام شـرعي پالیسـي او د هېـواد لـوړې ګټـې بایـد پـه پـام کـې ونیـول شـي او د هـر چـا د منلـو یـا ردولـو محـور جوړ شي.

## ځوان د هېواد په آبادۍ کې رغنده...

داچې د ننګرهار ولسـونه یـو فرهنګ پاله او علم پـروره خلک دي د ځوانانـو لپاره مو پـه زړه پورې مشـاعرې لکه نارنـج ګل، نرګس ګل،رنګین ماښام او ورته نورې برنامې ترسره کړې او اوس په ۹ ناحیو او ۲۲ ولسـوالیو کې د ځوانانو فعالې شورا ګانې لرو، چې د ځوانانو د نظم او انسـجام لپاره هره شورا یو مسوول لري او ځوانانو یووالي لپاره کار کوي او د اطلاعاتو او کلتور ریاسـت له لوري منظمې میاشـتنۍ غونډې ترسـره کوي او د ځوانانو دعلمي ودې او انسجام په برخه کې کار کـوي. داطلاعاتو او کلتور رییس زیاته کړه چې دځوانانو په کارې برخه کې له یو شمېر ادارو سره په اړیکه کې یو چې باستعداده ځوانانو ته دندې پیدا کړو، همدارنګه د اذهانو تنویر او عامه پوهاوي، ترڅنګ ورته د کاروبار، حرفوي زده کړو په اړه ورکشاپونه برابروو. ښـاغلي حنیف وویل، په تېر کال کې مو ځوانانو ته له لسو پوهنتونونو سـره په بېلابېلو رشـتو کې د تخفیـف تفاهم لیکونه لاسـلیک کړي اومطالعې تـه د هڅونې په موخـه ګرځنده کتابتونونهجوړ شـوي د ژورنالېزم فن،شـخصیت جوړونې انګلش کمپیوټر،ریاضي اروا پوهنه او یو شـمېر نورو برخو کې تر یو نیم زرو پورې ځوانان له لنډمهاله او اوږد مهالو زده کړو فارغ کړي.

مولوي حنیـف ځوانانو ته په پیغام کې وویل، للـه الحمد اوس چې افغانسـتان کـې امنیـت تامین شـوی، راځئ د دې نعمت شـکریه اداء کـړو او د هېـواد په ابادۍ کې پـوره ونډه واخلو او د شـته نظام ټینـګ ملاتړ وکړو، افغانسـتان په خپلـو متو جوړ کـړو، د پردیو په امیـد بـه نـور ژوند و نه کړو او نـه یې په پوچو تبلیغاتـو باور وکړو او د ټولنې ټول قشـرونه د هېواد په بیا وډانولـو او رغونه کې رغنده ونډه واخلو.

**سـمیع الله مومند**

## ځوانان د هېواد . . .

انجنیر ذبیح الله((عمر)) سره مرکه کړې، چې خپرېږي.

**پوښتنه:د افغان پُوست د فعالیتونو په اړه رڼا واچوئ؟**

**ځواب:**افغان پُوسـت ۱۵۰ کاله مخکې د امیر شېرعلي خان د واکمنۍ پرمهـال منځ ته راغلی، په تېـرو نظامونو کې د مخابراتـو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت تر چتر لاندې د پُوسـت او پارسـل فعالیتونه ترسـره کول؛ خو د اشـرف غني د واکمنۍ پرمهال په یوه ځانګړې شـرکت بدل شـو. دغه شرکت د نړیوالې پُوستي ټولنې او همدارنګه د اسیا او پاسفیک داتحادیو غړیتوب لري.اوس افغان پُوست د نړۍ ۱۹۲هېوادونو ته پُوستي خدمتونه ترسره کوي.د هېواد په سطحه هم یوه پراخه شبکه شمېرل کېږي، ۳۴ ولایتونو او همداسـې نږدې ۴۰۰ ولسـوالیو کې فعال د خدمتونو د وړاندې کولو څانګې لري.سـربېره پر دې په کابل پلازمېنه کې کابو۳۰ پُوسـت خونې لري، چې د دغو پُوسـت خونو لـه لارې د هېواد په۳۴ ولایتونو او همداسې ۴۰۰ ولسوالیو کې پُوستي خدمات ترسره کوي.

**پوښـتنه:د نړۍ هېوادونو ته خپل پُوسـتي خدمات په څه ډول او له کومو لارو ترسره کوئ؟**

**ځواب:**افغان پُوست دولتي اداره ده، چې د نړۍ ډېرو هېوادونو ته د هوا له لارې خپل پُوستي خدمات ترسره کوي.افغانستان په وچه کې ایسار هېواد دی، سـمندر ته لاره نه لري. د نړۍ ډېرو هېوادونو ته د پُوست او پارسل فعال خدمات شتون لري.مراجعین کولی شي تر ۳۰ کیلو وزن پورې خپل مالونه یادو هېوادونو ته ولېږدوي.

د اسلامي امارت د نظام ټول مراسلات له دې لارې لېږدول کېږي.سربېره پردې په دغو ولایتونو او ولسـوالیو کې د سیم کارتونو او کریدت کارتونو خدماتو نمایندګۍ هم لرو.د دغو کارونو ترڅنګ د بهرنیو چارو له وزارت سره د سندونو او تحصیلي دیپلومونو تائیدولو یوتفاهم لیک هم لرو.دغه سندونه زموږ له لارې تائید کېږي.د ادارې پړاو له بشپړولو وروسته سندونه بېرته مراجعه کوونکو ته سـپارل کېږي، چې په دې کار سره هېوادوالو ته اسانتیاوې برابرې شوې دي.همداسې د پوهنې وزارت د شهادت نامو له ریاست سـره هم تفاهم لري.د اړتیا پرمهال شهادت نامې زموږ له لارې د بهرنیو چارو وزارت اداري پړاو بشپړوي.سـربېره پر دې د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د پاسپورټ وېش هم ترسره کېږي.

**پوښتنه: د پخواني نظام په نسکورېدو سره یوه موده پُوستي خنډونه او ستونزې پیدا شوي وو ،اوس وضع څنګه ده؟**

**ځواب:**د اسـلامي امارت په منځ ته راتلو له نړۍ سره اړیکې کمزورې شوې وې، موږ ونه شوای کولی، چې د پُوست او پارسل خدمات غښتلي کـړي وای، خو د همکارانو په هلوځلو سـره موږ پـر دې وتوانېدو، چې وضعیت ته بدلون ورکړو. اوس د نړۍ ۱۹۲ هېوادونو ته پُوستي خدمات لرو او په دې لټه کې یو، چې دغه خدمات پراخ شي..

**پوښتنه:د پُوست د تشکیل او د خپلو ترلاسه شویو عوایدو په اړه که رڼا واچوئ؟**

**خواب:**په اټکلي ډول ویلی شم، چې په یوه میاشت کې کابو۵۰ میلیونه افغانۍ عاید لرو.د پوسـت اداري کارمندانو ته، چې شـمېر یې ۱۲۰۰ کسانو ته رسېږي له دغو پیسو معاشونه ورکول کېږي او پاتې پیسې د دولتي حساب ته داخلېږي.

**پوښتنه: نور څه خدمات ترسره کوئ؟**

**ځواب:** موږ د الکترونیکي پیسو د لېږد چارې هم ترسره کوو او همدارنګه له مخابراتي شرکتونو سره د سیم کارتونو او کرېدت کارتونو د وېشلو لپاره تعامل هم لرو.د برېښنا د بل د ورکولو خدمات هم لرو، چې زموږ له لارې ترسره شي.

**پوښتنه:په راتلونکې کې د خپلو پُوستي فعالیتونو د پراختیا لپاره څه پلان لرئ؟**

**ځواب:**موږ هلې ځلې کوو، چې د افغان پُوسـت ټول خدمات معیاري او پراختیا ورکړل شـي.په پخواني نظام کې د پُوسـتي خدماتو برخه کې سـتونزې پرتې وې، چې اوس مـوږ تر ډېره برېده دغه سـتونزې هوارې کړې.د هرې برخې لپاره طرزالعملونه جوړ شوي او په داسې میکانېزمونو کار کوو، چې څرنګه چټک پُوسـتي خدمات د هېوادوالو لپاره د منلو وړ وګرځوو. په نږدې راتلونکې کې به دغه خدمات وړاندې شي.

**پوښتنه:خلکو ته د پُوستي خدماتو په اړه څه وینا او پیغام لرئ؟**

**ځواب:**له هېوادوالو زموږ غوښـتنه داده، چې افغان پُوسـت مطالعه او وپېژني؛ ځکه ډېر خلک د دغې پُوستي ادارې په اړه معلومات په واک کې نه لري.موږ هم هلې ځلې کوو، چې د انځوریزو،غږیزو او چاپي رسنیو له لارې خلک د پُوست له ښېګڼو پوه کړو.په پخوانیو نظامونو کې د پُوست د پراختیا له لپاره کار نه دی شوی.اوس چې موږ د پُوست پراختیا ته هوډ لرو دغه پړاو وخت نیسي.موږ دغه خدمات د هېوادوالو د هوساینې لپاره منځ ته راوړي دي.

**نوري**

## بیت المقدس د چا حق دی؟

**ایوب عمري**

د بیـت المقـدس سـپېځلې خـاوره پـه اوسـنې فلسـطین کـې موقیعـت لري، چـې تاریخ یې تـر سـلیمان (ع) پورې رسـېږي، دلتـه هغه مقدسـه خـاوره شـته چـې رسـول اللـه «ص»ورڅخه اسـمانونو تـه پورتـه شـوی، د سـلیمان (ع) پـه لاس جـوړ شـوی مسـجدالاقصی همدلتـه موقیعـت لـري، پـه اصـل کـې لـه پېړیـو راهیسـې پـر دې مقدسـه ځمکـه د مسـلمانانو او یهودیانو شـخړه ده، یهـود تحریـف شـوی تـورات د دې خـاورې لپـاره خپلـه قبالـه یـاودي، د دوی پـه انـد چـې (بیـت المقـدس اللـه تعالـی زمـوږ نیکـه ابراهیـم ع تـه د هغـه د ایمانـدارۍ لـه املـه ورکـړی و، نـو یـوازې مـوږ د دې خـاورې مراثیـان یـو دوی ډېـر پخـوا لا د اسـرائیلي دولـت تاسـیس لپـاره د نـړۍ لـه مختلفـو نقطـو څخـه سـره یوځـای شـوي او ادعـا کـوي د داود ع اسـرائیلي دولـت بـه بیـا ځـل جـوړوي او د سـلیمان (ع) پـه څېـر بـه پـر نـړۍ واکمنـي کـوي، د دې کار پیـل یـې پـه ۱۹۱۷م کال کـې انګلسـتان وکـړ، چـې د لومـړي ځـل لپـاره یـې پـه یـوه اعلامیـه کـې وویـل: مـوږ پـه فلسـطین کـې یهـودو تـه ملـي کـور جـوړو، پـه اصـل کـې دا هغـه وخـت و، چـې انګلسـتان د نـړۍ اداره پـه لاس کـې اخیسـتې وه کلـه چـې امریـکا د نـړۍ سـتر قـدرت شـو هغـوی هـم دې لارې تـه ادامـه ورکـړه او د نـړۍ لومړنـی هېـواد و چـې پـه ۱۹۴۸م کال کـې یـې اسـرائیلو تـه د یـو دولـت پـه توګـه رسـمیت ورکـړ، هېـره دې نـه وي چـې اروپـا وار د مخـه لا صهونیسـتي غورځنـګ درلـود، چـې د نـړۍ د هـرې برخـې یهـود یـې دې مقدسـې خـاورې تـه راټولـول، ننـنـي اسـرائیل پـه سـختو ظلمونـو، وحشـتونو او جنایتونـو سره یهودیانـو د مسـلمانانو پـر پاکـه خـاوره پـه زور او جبـر سـره تاسـیس کـړی، چـې پـه ډېـر لنډ وخـت کـې بـه د نـړۍ زبرځـواک هېـواد پـه توګـه راڅرګنـد شـي او ټول اسـلامي هېوادونـه پـه ځانګـړي ډول منځنـ ختیـځ بـه ترخپـل واک او بندیزونـو لانـد راولـي، دوی وار د مخــه لا دا کار پیـ کـړی د ټولـې عربـي نـړۍ دولتون او مشـران د اسـرائیلو تـر مسـتق کنټـرول لانـدې دي.

بیـت المقـدس د لومـړي ځـل لپـاره حضـرت عمـر رض پـه ۶۳۷م کال فتحـه کـړ او د سـلیمان (ع) ویجـاړ شـوی مسـجدالاقصی یـې د دوهـم ځـل لپـاره ابـاد کـړ، مسـلمانان هـم د بیـت المقـدس لپـاره خپـل دلایـل لـري بیـت المقـدس زمـوږ دی ځکـه چـې د مسـلمانانو لومـړۍ قبلـه ده، محمـد«ص» د همـدې ځمکـې څخـه اسـمانونو تـه ختلـی، اللـه«ص» هغـه وخـت چـې یهـودو موسـی (ع) تـه وویـل: تـه او سـتا خـدای وجنګېـږئ پـر یهودیانـو دا ځمکـه حرامـه کـړه، اللـه«ص» یهودیـان د زکریـا ع، یحیـی ع او عیسـی ع د وژنـې او سـپکاوي پـه خاطـر لـه دې مقدسـې خـاورې وشـړل، عیسـی ع د اللـه«ص» لـه لـوري اسـمانونو تـه پورتـه شـو، خو یهـود یـې د وژنـې ادعـا لـري.

یهود/اسـرائیل هغـه وخـت د دې مقدسـې ځمکـې دعـوه کولای شـي چـې دوی اسـلام ومنـي، بې لـه اسـلام راوړلو دا سـپېځلې خـاوره هېـڅ وخـت د دوی ملکیـت نـه ده، اللـه«ص» پـه قرانکریـم کـې فرمائـي: ( یقینًـا مـوږ پـه زبـور کـې لـه نصیحت نـه پـس دا لیکلـي وو چـې بېشـکه دغـه ځمکـه، د دې بـه زمـا صالـح (باصلاحیتـه) بنـده ګان وارثـان کېـږي) [الأنبیأ ۱۰۵]

قـران دا هـم ثابتـوي چـې یهـود بـه راټولېـږي دوی بـه د اسـرئیلو دولـت تاسیسـوي او مقدسـه ځمکـه بـه بېرته نیسـي خـو د خپل فسـاد لـه املـه بـه اللـه«ص» دوی پـه سـخت عـذاب سـره هـلاک کـړي، اسـرائیل اوس د نـړۍ پـه اټومـي او قـوي هېوادونو کـې ګڼل کېـږي چـې زیاتـره اسـلامي هیوادونه یـې د امریـکا او غربـي سیکولرسـتي نظامونـو په توسـط ترخپـل کنټـرول لاندې راوسـتي دي، بیـت المقـدس یـوازې د هغـه چـا حـق دی چـې د اللـه تعالـی وحدانیـت او د رسـول اللـه«ص» رسـالت ومنـي، لمانان د دې سـپیځلې خـاورې مالـکان دي، نـو بنـاءً د هـر سلمان لپـاره د اسـرائیلو/یهودو پرضـد سـپیځلې جګـړه ی دنـده ده، چـې د خپـل مسـلک مربـوط یـې سره کـړي، مهمـه نـه ده چـې حتمـاً نظامـي جګـړه وکـړئ هـر هغـه وسـیله چـې اسـو یـې تـوان لـري د یهـودو پـر نـد وکارو، اولادونـه مـو فکـراً ـه دې بـدې فتنـې خبـر کـړئ لـه«ص» دې ټولو مسـلمانانو ه د دې سـپیځلې خـاورې ـاتنې او پالنـې توفـق کـ ـي.



## شعر و ادب

## زړه کیسه

تاته يې چې نه کوم نو څه وکړم
چاته مې د سوي زړه کيسه وکړم

ته چې ماته وايې ما نه صبر شه
ښه وايې، خو څنګه درته ښه وکړم

هر څو که څوك دی غواړي، دی تا غواړي
څه مې په دې ډېر بې پته زړه وکړم

خوږ نظر چې هم نشي زغملی نن
څنګ مې نازولي ته کيسه وکړم؟

يه سايله! هغه سترګې نشته دی
چا ته پدې وران کلي کې شپه وکړم؟

## د مازیګر لمره

نن يې راته و وې چې دا ستا د اوسېدو نه دی
دا د ښکلو کلی دی دا ښار د اوسېدو نه دی

ښه دې سادګانې اداګانې قاتلانې کړه
هسې هم توتې زړګی د بیا پیوندېدو نه دی

یاره ستمګره! دومره زړه رابانديې مه سېزه
زړه مې لا زلمی دی دومره زر د زړېدو نه دی

ودرېږه لږ مه پرېوځه ای د مازیګر لمره!
لا مې تنده غړی نظر موړ په تماشو نه دی

ستا او د ګل منځ کې لا سائله! ډېرې دشتې دي
تـا لا د ازغو نه قدم ایښی په لمبو نه دی



# مبارزه پولیسی علیه مواد مخدر

**پوهیالی خواجه عبدالهادی صدیقی**

مقدمه: ازآنجایکه به همه هوید است مواد مخدر و مسکر ازجمله ماده بسیار خطرناک برای حیات بشربوده که استفاده از آن عقل انسان را که ازجمله ارزشهای دین مقدس اسلام است از بین برده وذایل می سازند همچنان اگربه تعریف مواد مخدرتوجه کنیم مواد مخدر یک ماده خطرناک بوده ومبارزه با آن از جمله وظایف پولیس می باشد که پولیس درجوار سایر وظایف اساسی مکلف است تا در امر وقایه وجلوگیری این مواد مدهوش مبارزه نماید.

عملیات مربوط به مجادله مواد مخدر:

**۱- عملیات منع:** مقصد ازعملیات منع عبارت ازمسلط ساختن ترس وهراس درنفوس مجرمین است تا آنها ازخوف تطبیق جزا برخود ازارتکاب اعمال مربوط به مخدر خوداری نمایند عناصرعملیات منع رامی توان درسه پارگراف صنف بندی وخلاصه نمود.

